# کړکۍ

**ډاکټر شر یفه شر یف**

د سریزې په نامه :

هغه ګران لوستونکی چې په لنډو کیسو کې تیم ، پلاټ ، او بحران یا کانفلکټ لټوی /خوښوی ، . ما ورته پیشی نه دی کتار کړی ، بحران نه دی بر سیره کړی ، ښه او بد نه دی سپړلی او پایلی نه دی کښلی . ما دا ټول لوستونکی ته پری ایښی دی . دی / دا دی د کیسی دا ملزومات زما په کیسو کې په خپله خوښه به خپل ذهن او تفکر سره پیدا کړی .

ځکه ما هم همدا کار کړی . کله یوی لنډی شیبی ما ته د ژوند د تضاد، تقابل ، کړکیچ او مانا را په زړه کړی ،. او سپړلو ته یی پارولی یم . کله یوی تشی خندا ، کله یو سپیره مخ ، کله یو بوی ، یو خوند، کله هم د یوی شیبی چوپتیا .....ډیر ځله هم زما د زړه او فکر یو ټکر. د کیسی کرکټرونه هم همداسی وانګیری .

که ددی کیسو لوستل د لوستونکی په زړه کی هم د ژوند د یوی شیبی ، د اندیښنی د یوه څرک او د چاپیریال یوه انځورور ژوندی کړ ، نو زه یی لنډی کیسی ګڼم .
ښې دی که بدی ؟
لوستونکی پوه شه او ذوق یی .

Download from:aghalibrary.cm

د هیواد د هغو خلکو په ژوند کی د نویو شنو (پسرلیو ) په هیله چی د ژوند ترخه یی ادبی حماسی او تراژیدی زیږوی ؟

یا: د هیواد په غرو رغو ، کلو باندو کی د نویو شنو (پسرلیو ) په هیله

د ( پسرلی) د کورنی څخه مننه چی زما پخوانی مینه یی د پشتو ادبیاتو سره را ژوندی کړی/پایللی .
او په تیره د ایمل پسرلی څخه چی پرته له ده د هڅواو هڅونو څخه دا کیسی به یواځی ما لوستی وای .

# تش واټ

د باندې هوا ډيره سړه ده خو ټکسي ګرم دی خوب راځي نيمه شپه له مجبوريته راپاڅيدلې يم چې سهار وخته خپل ښار ته ورسيږم او کار ته لاړه شم په زړه کې مې ځانته قار راځي چې د کار مزدوره يم د ژوند واک مې د کار په لاس کې دی خوب او خوراک او تفريح يو هم په خپل زړه نشم کولای د ورځې او شپې حساب د کار له مخې کوم په ځان مې زړه سوځي څومره کار ، څومره کار؟ له ځانه سره وايم دا وارې چې لاړمه کار c`پريږدم او په خپل زړه ژوند تيروم

موټروان د موټر ټيپ لګوي د يوې مستې سندرې غږ د موټر فضا ډکوي او د شپې کراري هم ګډوډوي زړۀ مې

په تنګيږي ، ورته وايم

لطفاً لږ يې ټيټ که

موټروان د ټيپ غږ ټيټوي ، د سترګو له کونجه شاته ګوري   غواړي ما وګوري  او ځان ډاډه کړي چې زه يې خبرو ته غوږ نيسم  يا لږ تر لږه څه ورته نه وايم

چېرې ځې ؟

ـ کابل ته

ښه ته د کابل يې ؟ زه له هنده  راغلی يم  د  کلکتې يم ،  خو دا پنځلس کاله کېږي چې دلته په دوبۍ کې کار کوم
د ښار سړکونه تش دي  يو نيم ټکسي  ليدل کېږي  د کانونه تړلي دي  د سړک په دواړو خواوو کې څراغونه يوازې او  هير شوي مالومېږي

ورو د شونډو لاندې وايم  ښه ؟

موټروان بيا په خبرو راځي
-
يوه لور او يو زوی لرم پنځه کاله کېږي چې دلته په دوبۍ کې کار کوم
پنځه کاله نور  هم کار کوم چې دلور د ولور پيسی پيدا کړم بيا نو ځم  زوی ته خو خپل خسر واده  کوي

ټکسي روان دی او د دوبۍ د ښار واټونه مې د تورو کږو ليکو په شان تر سترګو تيرېږي  سړکونه تش دي  لرې  د سړک نه لرې د ونو لاندې يو سيوری خوځېږي  ښه ورته ځيرېږم  يو سړی دی ډنګر او ووړ دی او چټک روان دی  يا د شپې له کاره اوس خلاص شوی دکور خوا ته روان دی او يا يې کار سهار وخته پيلېږي ورباندې ناوخته دی

د شاګردۍ وختونه مې په امريکا کې  يادېږي چې د رخصتيو په ورځو کې به مې په يو چېني رستوران کې لوښې مېنځل او ګهيځ وخته به ورته روانه وم  رستورانت د لاريو د موټروانانو لپاره و د سهار له پنځه بجو به سبا ناری پيلېده او تر يولسو بجو پورې به يې دوام درلود ما ته د دوی د

خوراک اندازه د دوی له لویو بشقابونو څخه مالومېده هر یوۀ به درې دانې هګۍ ، دوه درې پراټې او وچه ډوډۍ له کوچ سره خوړې کله چې به له اشپز خانې نه رستوارنت ته د لوبنو د ټولولو لپاره تلم ، موټروانان به مې لیدل چې خوراک یې ماته مالوم و ټول چاغ او غټ سړي وو په لاسونو یې شنه خالونه او رسمونه کښلي وو د لوبنو د مېنځلو په وخت به مې کله پاتې شوئ ډوډۍ ته زړه کېده

خو دوی چې به مې ولیدل زړه به مې ورنه تور شو

هغه ورځې مې نه هیریږي کابو نیمه شپه به چې د ساعت زنګ له خوبه پاڅولم او په نیمه تیاره کې به رستورانت ته روانیدم ، په ځان او په دنیا به په قار وم او فکر به مې کاوه چې ژوند مې د کار په ځنځیرونو تړلی دی د خولې خوند به مې تریخ و او خوا به مې ګرځیدله همدغسې تیاره به وه سړکونه به همداسې تش و او ما به په زړه کې هغو ته چې خواږه خوبونه یې کول ښیراوې کولې تا به ویل دا د دوی ګناه ده چې زه مجبوره یم کار وکړم او د خپلو زده کړو پیسې وګټم یو نیم موټر چې به مې د باد په شان له څنګه تیریده ما به ویل ما ته د خندلو په قصد تیز روان دی له ټولو نه به مې بد راتلل او ټولو باندې به قا ر وم

اوس مې هم د خولې خوند تریخ دی او له بې خوبۍ نه مې زړه بد بد کیږي

خو موټروان له بیخوبۍ سره روږدی دی او چورت یې نه دی خراب ، په خبرو لګیا دی

دوبۍ کې هم اوس کار نه پیدا کیږي خو بیا د خدای شکر دی تکسي - چلیږي زما او زما د کور ګوزاره ورسره ډیره ښه کیږي لور ته مې د سرو زرو یو سیټ هم اخیستی چې واده ته یې تیار وي

هوایي ډګر ته رسیږو تکسي دریږي او وار له واره درې څلور کاریګره د بکسونو د وړلو لپاره د موټر چارچاپیره ولاړ دي

د تکسي موټروان ته پیسې ورکوم  څو روپۍ هم بخششي  زړه مې وربانديې
سوځي  خوارکی پنځه کاله نور هم د کار لپاره  مساپري کوي  د کاریګرانو
څخه تر ټولو یو ځوان وخته زما بکس په لاس کې اخیستی او د مېدان د
سالون خواته روان دی  د دروازې پر سر مې په لوحې سترګې لګیږي
departure لیکلي يې دي تګ
په کاریګر پسې  روانیږم

# خاندانه

خندانی  ګډ وډ غبرونه اوریدل. ژړاګونه خنداوی ، ځګیروی او د لوبو چغی ،  مستی او
غمجنی سندری ....

کاږه واږه انځورونه یی سترګو ته کیدل :  پیغلی په نڅاوو د دوړو او وینو ګردچاپیر
څرخی ، ماشومان په منډو رالویږی  پورته کیږی، دیوا لونه نړیږی ، دوړی  د دیګونو
د لوګی سره تاویږی او توری وریځی ورنه جوړیږی او  هوا ته پورته کیږی .
خندانی  د خپلی  مور څیری ته ځیر کیږی، ځیر کیږی خو نه یی (تشخیصوی-) پیژنی .
ویښتان یی پر مخ خواره دی . کالی یی نه سره دی نه تور.....

خندانه  هڅه کوی  نور هم وړاندی شی او د مور څیری ته ځیر شی خو سر یی دروند
دی . نه پورته کیږی .  چا ویلی وو بمونه درانه دی. نه چی په سر کی یی چا بم ایښی
وی ؟

سترګی یی هم درنی دی خو خندانه یی په خواریو یو کونج  خلاصوی:

کفنونه دی . دریدلی کفنونه .   خوځیږی  . خندانه نو رهم هڅه کوی سترګی خلاصی
کړی .

نرسانی دی . یوه یی خارجی ده . جگه ،نری . خندانه رنگونه وینی : سپین غاښونه ، شنی سترگی ، طلایی ویښتان . سپین ،زرغون ، ژیړ.

خندانه سرنړدی کوی .

مه خوځیږه !

غړ د بلی خوا نه راځی . خندانه د غړ خواته سترگه خلاصوی :

خاکستری ټکری د تورو ویښتو په سر .

غړونه لری کیږی :

هو خوارکی ناوی ده . -

-

- بی لاس و پښی ناوی . -

-

بیا نو خبری اوری خو نه پری پوهیږی . -

-

د خندانی سترگی پټیږی . -

-

««««««««««« -

-

د میرویس روغتون په دهلیزونو کی نن خلک نه ښکاری . یو نیم وارخطا سپیره -
مخونه د دروازو تر شا لیدل کیږی . د هری ورځی د پایوازانو د گڼه گوڼی ؛ځرک
نه لگیږی . خو ډاکتران او نرسان دی چی د یوی کوټی ته بلی ته منډی وهی او
غړونه یی په دهلیزونو کی انگازی کوی :

-

مړ شو . -

مړ دی . -

لاسونه یی  پریکړه .              -

پښه یی پریکړه.                    -

بیګا شپه د مشرخان د زوی په واده کی امریکاییانو بمباری کړی ده . کوروالا او میلمانه کابو ټول مړه دی . یو نیم پکی ژوبل پاتی دی . مړی د  دوړو او خاورو لاندی دی او زخمیان یی میرویس روغتون ته راوستی دی .

خندانه هم   ژوبله ده . او د همدی دهلیزونو په یوه کوټه کی بستره ده .
امریکایی نرسه یی خوا ته ولاړه ده . او افغانه ترجمانه یی ورته د خندانی د واده کیسه کوی .

ځومره ځوانه او ښکلی  ده . زر به بیا واده وکړی که څنګه ؟                 -

- یه . محترمی !                  -

-کونډه خو هسی هم څوک نه ودوی ځو چی ددی بدبختی غوندی بی طالع او بیسواد ه                -
وی خو بیخی یی څوک نه کوی . اوس خو یی چی  ښی لاس هم ورته پری شی نو بیخی بیکاره ګرځی  .

امریکایی نرسه د خندان پر تړلی لاس، لاس کاږی :              -

-

-جالبه ده . ستاسو ناوی د واده په شپه کی رنګه کالی اغوندی . موږ سپینی جامی                -
اغوندو. تاسی لاسونه هم سره کوی . ولی ؟ دا د څه شی سمبول دی ؟

ترجمانه د خندانی چپ                -

-

لاس ته ګوری :               -

---هو تاسی رښتیا وایاست. ددی لاسونه په نکریزو سره دی  او جامی یی هم ټول رنګه                -
. ډیر شه پام مو ورته شوی . تاسی ډیر ځیرک یاست .

خو له دی وروسته به تک تور اغوندی .

ترجمانه خاندی .

خندانه  نوره هم ښکته کیږی . په یوه ژوره څاه کی ښکته او  ښکته او ښکته لویږی .  د ترجمانی د  خندا غږ د ډیر لری نه اوری  :

 هماغسی چی په ماشومتوب کی یی  د خپلی خنداغږ د غره نه اوریده .

# کړکۍ

نفس مې بند يږي.. پوزه مې بنده ده. زه وايم زړۀ مې چوي. يوه ذره تازه هوا غواړم . کړکۍ ټولې بندې دي . پنډې پردې ور پورې کش دي . د رڼا او هوا د لګيدو لارې يې نيولې دي . يو غټ تورمچ کله په يو ديوال او کله په بل لګيږي اوبيا زر پټيږي
د پردې يوه څنډه ورو پورته کوم . دوړې ورنه لټيږي ، خولې ته مې ننوځي . د پردې تر شا ښيښه په خيرو او دوړو توربخونه شوې او بهر ورنه نه ښکاري . د کړکۍ يوه دروازه خلاصوم . د تازه هوا څپه دننه راځي . بې واکه سر د باندې وباسم اوپه پوزې ساه اخلم. ځان سره وايم کشکې مې مخکې کړکۍ خلاصه کړې واى .
د هلکانو خندا اورم .
خدازده څه شي ته خاندې ؟
ښکته ګورم . کاريګران دي خټې کوي . يو خټو ته ناست دى . بل د اوبو ستل نيولى .څو قد او نيم قد هلکان هم د کاريګرانو په منځ کې ولاړ دي
که ګورم څو کارګران پاس ما ته ګوري . يوۀ لاس تر سترګو پورې چتر کړى ، بل خپل يوم په دواړو لاسونو نيولى اويو بل ناست دى او لاسونه يې پر زنګنو ايښي . يو روان دى خو سر يې زما د کړکۍ خواته کوږ کړى .
زړۀ مې ګړوپ لويږي . ژر کړکۍ بندوم . پردې کشوم . بيرته په يوۀ کونج کې کېنم .
څه کيږي ؟ څه وکم ؟
دوى خو وليدم ؟! چا پيژندلې و نه اوسم . چا ته و نه وايي ؟
****
ځوک دروازه ټکوي . غږ نه کوم . د کور خاوند دى ښايي ليدلې يې وم .
د دروازې ټک ټک لاپسې لوړيږي
ټک ټک ټک .........ټک ټک ټک ټک
بيا غږ نه کوم. څو شيبې چوپتيا ده بيا د پښو غږ اورم چې ورو ورو ليرې کيږي .
بيا هماغه چوپتيا ده ،هماغه ګرمي ، هماغه د يوازيتوب بوى او هماغه سرګردانه مچ ، هماغه ديوالونه او زه .
مچ په عذابه کړې يم . دا دريم ځل دى چې په پوزه مې کېني . ولاړيږم او د مخامخ کړکۍ څنګ ته دريږم . دا کړکۍ دسړک خو ا ته خلاصيږي . دا واري احتياط کوم او د پردې يوه څنډه داسې پورته کوم چې مخ مې ترې نه ښکاري . ښيښې ډيرې خيرنې نه دي او بيرون ورنه ښه مالومېږي .
سړک له خلکو ډک دى . راز راز موټرونه روان دي . يو له بله مخکې کيږي . د پياده روو ، کراچېو او ماشومانو ګڼه ګوڼه ده.
د سړک په بله غاړه دوه وړې جنکۍ ولاړې دي . د يو بل لاس يې نيولى دى . دواړه هم قد او اندازه ښکاري . د دواړو په يو لاس کې د سودا کڅوړه ده. دوى د موټرو وار څاري چې له سړک نه اخوا واوړي خو دومره په خبرو سره بوختي دي چې پاس نه ګوري .
زه د پردې له هماغې څنډې دوى ته ګورم او منتظره يم چې د سړک نه دې خوا تيرې شي جنکۍ هماغسې په خبرو لګيا دي خو يو وارې د سړک په منځ کې راونيږي . د موټرو او.

خلکو له منځه تیریږي . یوې خوا او بلې خوا ته اوړي خو لاسونه نه خوشي کوي .   دوی د سړک دې خواته نژدې کېږي او ماته یې ځیرې ښه  مالومېږي . سترګې مې پر دوی دوو نښتي دي چې ګورم یو   غټ  جګ سړی  ، ته وا د خپلې غټې  خیټې ترشا د جنکېو په لور لوی لوی ګامونه اخلي او لاسونه یې دواړو خواو ته داسې خوځوي چې ته وایې د څپو په منځ کې لامبي .
جنکۍ  چې سړي سره مخامخ کېږي یوې خواو بلې خوا ته کېږي خو لاسونه نه خوشي
. کوي،غواړي د سړي له  څنګه تیرې شي . د سړي له څنګل سره یوه لګیږي ، پر شا غورځي د سودا دوه کڅوړې د سړک په منځ کې تويیږي. کچالان ، رومیان او پیاز د لارویو ترپښنو او د موټرونو تر ټیرونو لاندې رغړي ؟
جنکۍ دواړه په بیړه او وارخطایي ولاړیږي ، خپلې لمنې ټکوي، یو بل ته او تیتو شویو ترکاریو
: ته ګوري. کړکۍ خلاصوم. بې اختیاره غږ کوم
! هې جینکۍ
یوه چې کړکۍ ته لږه نژدې ولاړه ده  پاس ګوري او پر ما یې سترګې لګیږي . بلې ته څه وایي .
. هغه هم زما خواته ګوري. دواړه د  شونډو په څنډو کې مسکېږي . زه هم ورته مسکېږم
ـ نه شرمېږې لویه ښځه یې  ځان خلکو ته ښيې ؟
د غږ لوري  ته ګورم . یو سپین ږیری د مخامخ کور په تراس کې  ناست دی ، زما خواته ګوري
.
کړکۍ ژر پورې کوم .  له ځانه سره وایم : دا څه وشول ؟
. پردې کشوم. د کوټې په کونج کې پر چوکۍ کېنم
. بیا  څوک دروازه ټکوي
څوک یې ؟-
.   ـ ترور زه یم عبدالله
. عبدالله ما ته ډوډۍ راوړې
. سلام
.سلام .  ډیره ګرمي ده
: عبدالله وايي
که دواړه کړکۍ خلاصې کړې ډیره ښه هوا چلیږي . خو د کور تر شا کاریګران ښکاري او   - .مخې ته خو هم  سړک دی .دا پنډې پردې ښې دي دباندې دې څوک نه شي لیدلی
! نه ښکارم  . مننه.

# شنې سترګې

د نجلۍ سترګې شنې دې. رڼې او روښانې . داسې رڼې چې ګومان کوم په سترګو کې یې خپل مخ لیدای شم. نه پوهیږم دا په خپله پخپلو سترګو کې څه ویني. د شونډو په څنډو کې یې د پټې موسکا نرۍ ګونځې هواریږي. نجلۍ وړه ده. ښایي د نهو کالو وي . نرۍ ده ، جګه ښکاري .
زما د تیز رفتار د هنداري تر شا یې یوازې سر او ټټر معلومیږي . خړ ټیکری یې په سر دی چې پیڅې یې شکېدلي دي . ګلدارشین کمېس یې اغوستی. د ټیکري له څنډو یې ژیړبخنه ګډوډ ویښته په تندي او باړخوګانو خواره دي او ګردی مخ یې لاګردی ښکاري . نجلۍ په چپ لاس د ټیکري څنډې نیولي او ښی لاس یې د موټر پر ښیښې ایښی ، خپلې شونډې د سوال په دود ښوروي. زه یې غږ نه اورم خو د شونډو له ښوریدا څخه یې معلومیږي چې څه خاصې کلمې نه وایي مازې شونډې ښوروي. ښایي د ( خدای دې خیر قبول کړه ، وړې یم خیر راکه) په ویلو سترې ده.
هسې د سوال لپاره شونډې ښوروي ، په زړه کې په پټه خاندي . ګرد چاپیره یې دوه درې نور . ماشومان ولاړ دي. هر یو د یوه موټر یا لاروي مخې ته دریدلی او سوال کوي
هوا سړه ده . د مازدیګر شین اسمان سور ښکاري . زه د موټر شیشې نه ښکته کوم خو نجلۍ ته ګورم چې ته به وایې پرما پرموټر پر لاروي او پر ځان او پر خپلې سوالګرۍ خاندي او پر ژوند ملنډې وهي . نجلۍ زما لاسونه څاري چې په جیب کې مې دي او نه یې خوځوم خو دا هماغسې خپلې شونډې ښوروي او ماته ښکته پورته ګوري مخکینی موټر پر مخ خو ځیږي ، زما موټر هم .لږ وړاندې ځي ، نجلۍ ګرندۍ شي ، له موټر سره یو ځای روانیږي
سترګوته یې ګورم. رڼې دي لکه هینداره. په سترګو کې یې خپله څیره وینم او د پټې موسکا تر شایې د ماشومتوب شیبې را په یادیږي چې همدغسې په پټه به مې نړۍ ته خندل او په ښکاره به .له نورو سره مشغوله وم
مشرې خور به مې د خپلو خورلڼو سره د شوتلو په پټیو کې د راتلونکي ژوند په هکله زما نه پټې پټې خبرې کولې . زه هغه وخت پنځه کلنه وم دومره پوهېدم چې غټې نجونې چې راتلونکی یادوي مقصد یې مېړه کول دي. دوی به د ځوانو هلکانو نومونه یادول او کړس کړس به یې خندل . زما چې ورته پام کېدل نو زربه یې د شوتلو خبرې کولې چې څومره له مالګوسره خوند کوي .
ما به هم ځان نه پوهاوه خو په زړه کې به مې د یو جګ ښایسته ځوان انځور ګرځیده. بیا به مې د شوتلو خبرې کولې خو همدغې سوالګرې غونډې به مې له ځانه سره په پټه خندل . داسې ډیر وختونه مې په زړه کېږي چې خبرې او سرخوځاوی به مې له نوروسره کاوه خو زړه به مې یوه .خیال او یو انځور ته خندل
د سوالګرې نجلۍ موسکا ماته هماغسې بریښي. دا له موټر سره یوځای روانه ده او زه ورته ګورم مخکینی موټر چټکیږي او ورپسې زما موټر هم تیزیږي نجلۍ یو څو ګامه منډې کړې ، بیا ورو ورو سوکه کېږي زه شاته ګورم او د موټر له شاتنی شیشې څخه یې وینم چې هماغسې .موسکۍ ده ، زما موټر ته ګوري
:موټروان ته وایم
.څومره ښایسته نجلۍ وه خوارکۍ
:موټر وان خپل وچولی تریو کړ
. ورک یې که ډیره ورانه ده وړکتوب ته یې مه ګوره -

څنګه ؟
څه يې کوې يو څه دوی بيکاره يو څه خلک وران شوي نه ووړ ته ګوري نه له خدايه حيا ورځي .ټول په فساد ککړ دي
.دو مره وړې نجوني ؟ زړه مې سوځي
دغه نجلۍ چې دې وليده مورنه لري. پلار يې نه پوهيږم څه بلا وهلی، فلج دی. وايي وروڼه يې هم مهاجر دي . ټوله ورځ تر ماښامه په سړکونو کې سوال کوي. اوس خو هغه پخواني خلک نه دي، جنګونو ځناوران ترې جوړ کړي، نه انصاف لري نه ايمان. هاغه کافي چې دې وليده تر ناوخته خلاصه وي، هر راز سړی ورته ورځي، بې ادبي دې ماف... نجلۍ يې کومه ورځ په پيسو تير ايستلې. سړو ورباندې بې ادبي دې ماف سات تير کړی، وايي ټوله شپه يې ايساره کړې وه . وايي بيا نو نجلۍ کورته نه ده تللې .. مجبوري ده کنه، خدای وهلې اوس نو ټوله ورځ د .همدغې کافي مخې ته ګرځي. مرداره بې ايمانه مخ دې ونه ليد، د کتونه دی
د سوالګرې نجلۍ شنې رڼې سترګې مې را په زړه کېږي په زړه کې مې يو څه غوټه شي . بې اختياره وايم : دا خو ډيره وړه ده ؟
:موټروان موسکی غوندې شي
څه يې کوې مورې . داسې ډيرې دي . دا خو لاڅه کوې، نورې دي چې سهار انجيوګانو ته - .ځي د کومک په کېسه کې دي
ولې نو انجيوګانې ورسره مرسته نه کوي؟
نه بابا څه مرسته کوي . يو دوه کمپلې ورکي، يو سات نيم ورسره خبرې وکي، بيا يې رخصتې .کي. په دوو کمپلو خو د چا خيټه نه مړيږي
موټر بريک نيسي، د چارراهي په منځ کې درېږي موټروونه يو په بل پسې درېلي دي . يو سپين ږيری بوډا خپله کراچۍ د موټرونو له منځه کشوي. خو له يې له سترړيانه نيمه وازه پاتې ده.
معلومېږي چې ځان په زوره کشوي. يو کوچنی ماشوم هلک، ښايي د اووکالو، د اوبو دوه پيپه يې په اوږو اچولي، کله يوخوا او کله بلې خواته کږيږي خو زر زر د موټرونو له منځه ځان ته لاره پيدا کوي . څو شيبې لانه دې تيرې شوي چې د موټر تر کړکېو چاپير د وړو جينکو او هلکانو ... کتار جوړ شي. يو د ژاولو بسته او بل تش لاس
.موټروان په اکسليټر پښه ټينګوي ، موټر وړاندې خېزاچوي

# مستحق

استاد د خپلې کرتۍ له جيبه د اوريدو اله وايسته . په ښې غوږ کې يې کېښوده ۰ ورپسې يې د کرتۍ له بغل جيبه تور قلم وايست . ښه يې ورته وکتل . سر پوش يې ترې ليرې کړ . څو ځله په لوړ غږ وټوخيد . خپله چوکۍ يې ميز ته ورنژدې کړه .د ميز په سر ايښې کاغذونه يې سره . واړول راواړول

د استاد میز زما د میز تر څنګ و . زموږ دفتر له یوې وړې کوټې جوړ و . پنځه میزوچوکی په سختی سره پکې ځایدې . لکه چې په دې وړې کوټې هر شی تپل شوي و . په زوره ورنه دفتر جوړ شوی و. میزونه او چوکی یو پر بل ایښودل شوې وې .
معلم سورګل د خپلې ځانګې له ریس سره جنګ کړی و . عمومي ریس ورته په دې کوټه کې میز ایښی و . سور ګل هیڅکله په خپل میز نه کښیناست خو هر سهار یې یو دوه کتابه پر میز ایښودل . استاد د نوي وزیر له خوا د ولایت له ریاست څخه د ډیر عمر په وجه لرې شوی و .
استاد چې ډیر په غوسه شوی و بیا نو دی دفتر ته لیږل شوی و . د استاد میز دروازې ته مخامخ و . او دروازه په هره دقیقه کې لږ تر لږه یو وار چا خلاصوله . یو نه یو چا به که بل څه نه وای نو د کوم بل دفتر پته خو پوښتله .
میلمانه خو مو نام خدا د استاد له برکته بیخي ډیر وو . کله به ډله ډله ، کله یو یو راته او د سورګل پر چوکۍ باندې به کښیناستل .

زما له ورتګ سره په دغه کوټه کې نور ځای پاتې نه شو .

هر یو به د استاد سلام ته راته . شین چای تیار دم کړی و . د شنو چایو ترموزونه به هر سهار د مامورینو له راتګه مخکې تیار پر میزونو ایښي وو . د دفتر پیاده ګانو به سهار وار له واره چاینه دمول او بیا به پیتاوي ته یا سیوري ته سره کښیناستل . استاد د خپل میز په روک کې چاکلیت هم ساته او چاته چې به یې زړه وغوښتل ست به یې هم کاوه . د ملیمنو مجلس ماته ورو ورو تکراري کېده . اوله کې اوږد روغبړ . زما او د منور صاحب معرفي او صفتونه او چای.
»»»»»»
نن سهار چې دفتر ته ننوتم استاد زیری رابادنې وکړ چې د دفتر کمپیوتر را رسیدلی . کمپیوتر د روشان صاحب پر میز باندې ایښی و . خوشاله شوم چې د چای څکلو تر څنګ به یو څه کار هم وکړم . خو چې روښاناوۀ مې نو ومې لیدل چې درې ساکته ورته په کار دی . خپه شوم . استاد او منور صاحب دواړو ډاډ راکړ چې راتلونکې اونۍ چې روشان صاحب دفتر ته راشي حتما به یې ور یادوي چې درخواست ولیکې او د تدارکاتو مدیریت ته یې واستوي . د دوی ډاډګیرنې لا نه وې خلاصې چې د دفتر دروازه خلاصه شوه . د ګاونډې دفتر ریس و . زه ور معرفي شوم :
- په افغاني ښځو کې ترټولو لایقه ده . استاده ده . د دې ساری د افغانستان په ښځو کې نشته . د چایو پیالې ډکې شوې . استاد د میز له روکه څلور دانې چاکلیتونه راویستل . پر سپین کاغذ باندې یې کېښودل او ټولو ته یې ست وکړ.
ما ته د نوي میلمه نه نوم زده و او نه پوهیدم چې د څه شي استاد دی . د دی لپاره چې ویې پیژنم پوښتنه مې وکړه :
- تاسو په کومې پروژې باندې کار کوئ ؟
دې پوښتنې لکه چې نوي استاد ته خوند ور نه کړ ، د ځواب پر ځای یې زموږ د دفتراستاد ته وکتل .
استاد چې غوښتل زما د بې ادبۍ جبران وکړې ، په زوره وخندل :

- وی ته استاد نه پیژنې ؟ دا خو ټول افغانستان ته ښکاره ده چې د استاد غونډې ساری په ادبیاتو کې نه شته . دی د ادبیاتو استاد او عالم دی .
بیا یې هغۀ استاد ته وکتل ، لکه خواشینی چې وي :

. بخښنه غواړم استاد ، زه تاسې په دې ساده الفاظو يادوم . ستاسو قدر خو پر ټولو فرض دی -
. نوي استاد ماته مخامخ کتل تر شونډو لاندې يې هيله کوم ، مهرباني مو ده ، ويل
منور صاحب چې د استاد په پرتله کمې خبرې کولې د نوي استاد د صفتونو لړۍ پسې اوږده کړه
:.
دوی خو نو د ادبياتو پلار بللی شو . موږ ډير بختور يو چې دوی په دی وزارت کې کار -
. کوي او بيا زموږ دفتر ته نژدې دي . موږ به د دوی د پوهې او تجربو څخه ډيره ګټه واخلو
منور صاحب د صفتونو لړۍ لا هم پسې اوږده کړه او زموږ د خپل دفتر استاد يې هم د خپل
. کار اتل وباله او زه يې د ټولو ښځو قهرمانه ونومولم
د منور صاحب صفت تر اوسه چا نه و کړی . د استاد ژر ور پام شو او دی يې هم د عاميانه
. ادبياتو ستر استاد او کار پوه وباله
د چايو او صفتونو مجلس لا نه و خلاص چې بيا دروازه خلاصه شوه . يوۀ مامور سر را ښکاره
: کړ
. هله راځئ . ماشونه راغلي دي -
منور صاحب او دواړو استادانو د چايو پيالې پر ځای کېښودې . يو بل ته د مخکې کېدو په ست
. له دفتره ووتل

»»»»»»»»»»»

: استاد چې دفتر ته راغی له ځان سره بونګېده . منور صاحب يې تر شا و
ډيره بې انصافي ده . عدالت نشته . څوک د علم او پوهې او تجربې په قدر نه پوهيږي . ټول -
. بې سوادان دي
. استاد د خپل ميز روک وتاړه . بکس يې ور واخيست
ـ که دا خلک د علم او پوهې په قدر پوهيدای اوس به د وزارت دا حال نه و. که د وطن خاطر
نه وای ، چې زموږ زړه مو پرې خوږيږي . والله که يوه شيبه دلته پاتې شوی وای . زه وايم
. خير دی وطن دی خدمت به يې کوو. خو دوی نه پوهيږي
. ستاسو قدر د افغانستان ملت ته مالوم دی استاده ، غم مه کوئ . دا چوکۍ تاسو ته ډيره وړه ده -

: استاد چې له دفتر نه ووت ، ما د منور صاحب نه و پوښتل
څه خبره ده منور صاحب ؟ ولې استاد په غوسه و ؟ -
. ـ هسې خلک ډير حريص دي . د استاد عالم معاش له دوی زيات حواله شوی
په حقيقت کې يو هم د معاش مستحق نه دی . نه استاد عالم په څه پوهيږي او نه دی ، خو هغه
. دی تاسو يې په خپله ګورئ . دواړه په واسطو مقرر شوي دي
.منور صاحب دا وويل او ورپسې يې د خپل ځان د ليکنو او تجربو اوږده کيسه شروع کړه

# د شګو کوټنی

ګل بخته نن سهار هم د نورو ورځو په شان ، مور سهار وخته له خوبه پاڅوله . کړه وړه روانه شوه. له ځانه سره بونګېدله او نه پوهېده چې په چا باندې په قهر شي . کله یې مور ته قار راته چې له خوبه یې پاڅولې وه. کله یې سردار ته چې سهار وخته یې کار ته غوښتله او د مېلمستون کوټې یې ورباندې پاکولې او کله هم خپل ورور پا چا ګل ته چې څو کاله کېږي مساپر شوی او درک یې نشته .

ګل بختې هر سهار ۶ بجې ځان مېلمستون ته رساوه . د مېلمنو کوټې یې پاکولی . زیاتره میلمانهٔ بهرنیان و . د ګل بختې معاش دومره زیات نه و. د مېاشتې ۵۰ ډالره یې اخیستل ، خو کله به مېلمنو شیریني مریني ورکوله چې که سردار ورباندې نه خبریدای دېته پاتې کېدې . سردار ټولو کار کوونکو ته ویلي وو چې که مېلمانه څه شیریني چا ته ورکوي هغه زما حق کېږي ، تاسې ته خو زه معاش درکوم .

نن چې ګل بخته مېلمستون ته ورسیده لا سلام یې نه و اچولی چې سردار ورته وویل:

هله هغه د کونج کوټه پاکه که چې نوی مېلمه راځي .

ګل بختې ژر جارو ، سېل او سافیان واخیستل ، د کوټې خواته روانه شوه. په دې کوټه کې یوه المانۍ ښځه اوسیدله چې د ګل بختې ډیره خوښه وه . ګل بختې چې کله د هغې کوټه پاکوله ځان یې د هغې په ځای فکر کاوه . نوم یې ورته نه ورته خو مګي ته نژدې نوم یې درلود.مګي جګه ، نرۍ وه او شنې سترګې یې درلودې ویښتان یې ژیړ بخنه طلایي وو. کله چې به مګي له کوټې وتله او ګل بخته به د کوټې پاکولو ته تله ، د خوشبویو کریمونو او پوډرونو بوی به په کوټه کې خپور وو او ګل بختې ته یې د یوه ارام ښکلي او ښایسته ژوند سا وربخښله . ګل بختې به کله چې تشناب پاکاوه دروازه به یې ورپسې بنده کړه ، په غلا غلا به یې د مګي کریم او پوډر په خپل مخ ووهل . ایینې ته به یې وکتل ، ځان به ورته د مګي په شان ښایسته کاکه او ازاده ښکاره شو.

نن سهار چې ګل بخته کوټې ته ننوتله کوټه خالي وه . د مګي کالي و بکسونه او کمپیوټر په کوټه کې نه و . ګل بخته ژر تشناب ته لاړه چې وګوري د مګي څه هیر شوي که نه . که ګوري پر مېز باندې د خوشبویو کریمونو یو وړکی ډ بلی پروت و. ګل بختې ژر ډبلی خلاص کړ. د ډبلې په یوه څنډه یو څه کریم پاتې و ، ګل بختې ډبلی د کمېس په جیب کې واچاوه. سترګې یې د دستشوی پر شیشه د عطرو پر بوتل ولګیدې . ګل بختې د بوتل سر خلاص کړ. د عطرو بوی د تشناب فضا ډکه کړه . ګل بختې دا بوتل هم جیب کې کېښود ، ځان ته په هنداره کې مسکۍ شوه ، خپلو سترګو ته یې چې وکتل ، جمال یې ور په زړه شو . جمال د دوی ګاونډی دی چې له ګل بختې څخه څو کاله مشر دی ، هر سهار مکتب ته ځي . ګل بختې چې به کله جمال لیده خوله به یې بیواکه وازیدله او د جمال خوله به یې خارله چې څه به ووایي . جمال چې به کله نورو همکلانو سره و ګل بختې ته به یې هیڅ پام نه کاوه خو کله به چې یوازې و ، ګل بختې

سره يې روغبړ کاوه ، د کار پوښتنه يې ترې کوله ، د خپل مکتب او سبق خبرې يې ورته کولې .
ګل بختې به زړه کې ويل که چېرې دا هم مکتب ته لاړه شي سبق ووايي بيا به جمال ورسره ډېرې خبرې وکړي. ګل بختې له ځان سره د جمعې د ورځې په باب فکر وکړ چې کار ته نه راځي ، جمال به ويني ، د مګي پوډر به په مخ ووهي او عطر به په ځان وشيندي.
. ګل بخته په همدې فکرونو کې وه چې د سردار غږ يې واورېد
. ؛ اې ګل بختې ! هله دا بله کوټه پاکه که
. ګل بختې لا د مګي د کوټې په پاکولو هم پيل نه و کړی
»»»»»»»»»»»»»»
هلته د ښار په بل ګوټ کې جمال مکتب ته روان و،کله چې له دروازې څخه ووت د ديوال شا ته ودرېد ، د واسکټ له جيبه يې کوچنۍ هينداره راويستله ، خپل ويښتان يې په کې وکتل . جمال ته د ځينو هلکانو جلا داره ويښته ډېر ښه ايسيدل خو نه پوهيده چې څه پرې کوي . ده نن سهار خپل ويښتان په اوبو لامده کړي و خو هغسې جلا داره نه بريښيدل . جمال څو ځلې هينداره د خپل مخ په وړاندې ښکته پورته کړه سترګې يې ورته تنګې کړې او يو څه قانع شو . ورو يې هنداره جيب کې کېښوده ، شا و خوا يې وکتل چې هسې نه چا ليدلی وي او له دروازې ووت ، د مکتب . خواته روان شو
جمال هر سهار دغه وخت له کوره ووت او د مخامخ کو څې په لاره مکتب ته تهٔ . د کوڅې په سر کې د جنرال کور و . جمال هر سهار د جنرال موټر ليده چې لور يې پکې ناسته ده او له دروازې څخه وځي . يو سهار چې جمال د جنرال د دروازې مخې ته تيريده د انګړ دروازه خلاصه شوه . موټر راووت . جمال په خپل ځای ودريد چې موټر تير شي . له ډېر نژدې څخه يې د جنرال لور وليده چې د موټر د شا په څوکۍ کې ناسته وه . جمال ته د جنرال لور ښايسته پيغله ښکاره شوه . ارغواني جامې يې په ځان کې وې . تورې عينکې يې په سترګو وې ، اوږده ويښتان يې په اوږو پراته وو . چې موټر تيريده نجلۍ د جمال خواته وکتل او په شونډو يې نرۍ . موسکا خپره شوه
جمال په يوه شيبه کې ځان د جنرال لور د خيالونو شهزادګۍ احساس کړه . له هغې ورځې جمال چې هره ورځ له کوره ووت د جنرال د کور په لاره مکتب ته تهٔ او د جنرال د لور د ليدو . هوس به ورسره و کله به يې د هغې ليدل په نصيب شو ، کله نه
جمال ته د جنرال د لور يوه شيبه کتل د ټولې ورځې او شپې د خيالونو سر چينه وه . همدا چې دراتلونکې ورځې په فکر کې شو چې څنګه ودريږي .څنګه نجلۍ ته وګوري او څه وکړي چې د نجلۍ پام ځانته راواړوي . نن سهار جمال له هرې ورځې څخه زياته تلوسه درلوده . پرون سهار چې دی د جنرال د کور د دروازې مخې ته دريدلی و او موټر راووت د جنرال لور د جمال خواته مخ واړاوه او ورته وموسکېدله . جمال خيال وکړ چې د تورو عينکو لاندې يې سترګې ده ته ګوري او خاندې ، نن يې په هماغه خيال کاکل لوند کړی او ږمنځ کړی و او له ځانه سره يې په هينداره کې د څو ډوله موسکېدو تمرين کړی و چې که د جنرال لور ورته وموسکېده دی به . هم په ځواب کې ورته وموسکيږي
»»»»»»»»»»
جمال د جنرال د کور خواته ورو روان و ځکه د جنرال د لور د وتلو وخت لا نه و ، دی په سو چونو کې ډوب و چې له شا څخه يې خپل نوم واورېد:
! جماله -

جمال شاته وکتل ، ګومان یی وکړ چې هسې يې په خيال کې خپل نوم اوريدلی . خو غږ رانژدې
: شو
اې جماله ! ودريږه !چېرته بيسده بيسده راون يې ؟ -
جمال لږ ورو شو ، شاته يې وکتل . که ګوري انور همصنفی يی په غټو غټو ګامونو ور نژدې
: کيږي . جمال ودريد . انور وويل
:مکتب ته روان يې که نه ؟ جمال ځواب وکړ
.هو -
. نو راځه چې لنډ ورشو ، داسی -
. انور د جنرال د کور د کوڅې نه مخکې بلې کوڅې ته اشاره وکړه
: جمال وويل
. ته ورځه . زما دلته په دې کوڅه کې کار دی
. جمال ورو وويل چې له انوره ځان خلاص کړي
ـ څه کار دی بابا ؟ په دې سهاري کې ؟
.انور شله و
: جمال زړه نا زړه وويل
. هسی يو چا سره مې وعده ده -
. ـ په دی سهاري خلکو سره څه وعدې کوې راځه مکتب ته ځو چې ناوخته کيږی
.ته ورځه . زه بيا راځمه -
. ـ ښه نو ته د جنرال د کور له کوڅې تيريږې
. د جمال زړه کړوپ وکړ . زړه کې يې وګرځيدل هسې نه چې انور ورباندې خبر شوی وي
ـ کوم جنرال ؟
.جمال ځان ناګاره واچاوو
. ـ هاغه . د ړندې پلار
: جمال ژر وپوښتل
کومه ړنده ؟ -
:انور وويل
دغه جنرال چې کور يې د دې کوڅې په سر کې دی . ړنده لور لري . تورې عينکې په -
. سترګو کوي او هره ورځ په موټر کې چېرته روانه يې د ړندو مکتب ته به ځي
جمال ته د جنرال د لور د تورو عينکو تر شا سترګې او د شوندو په څنډو موسکا د ماشومانو د
شګو کوټنۍ انځور شوه چې د انور د خبرو په يوه انګازه کې ړنګه شوه . جمال داسې احساس
کړه لکه د زړه تل يې چې تش وي لکه چې سوری شوی چې وي . پښې يې سستې شوې . خو نه
. يې غوښته چې ځان پوه کړي . د جنرال د کوڅې خواته روان شو
:انور ورپسې غږ وکړ
! ډير مه ځنديږه -
««««««««««
د جمعې په ورځ د غرمې نه مخکې جمال د خپل کور د دروازې څنګ ته ولاړ و، د لارويو او د
: کوڅې د هلکانو سيل يې کاوه ګل بخته له کوره ووتله . جمال ورباندې غږ وکړ
اې ګل بختې چېرې روانه يې ؟ -
: ګل بختی خپله جينګه خوله د څادر په پيڅه پټه کړه ، په شرمنا ک اواز يې وويل
. سودا پسې -

جمال بیا غږ وکړ : له کار سره څنګه یې ؟ -
: - ګل بختې سر یوې خواته کوږ کړ ورو یې وویل
. نور نو نه ځمه کار ته -
- ولی ؟
. - سردار ځواب کړم
: جمال په ټوکه وویل
په کار کې دې هم خوبونه کول که څنګه ؟ -
ګل بختې ته په زړه کې د مګې د وتلو او د هغې د کریمونو کېسه ور وګرځیده ، له ځانه سره یی
. وویل : کشکې مې نن هغه کریم وهلې وای

# واوره

پروین واوره پلمه کړه او له دفتره وخته ووتله . واوره د رڼو مرغلرو د هارونو په شان په نڅا نڅا او ټوپونو ټو پونو مځکې ته ښکته کېده . دومره چې د کب د میاشتې په نیمایي کې د واورو وریدل غیر معموله وهٔ، ښکلا یې هم هماغومره په زړه پورې وه. د هاغه دوست لیدو ته ورته . و چې په تلو وي او ښه خبر یې چې درنه روان دی
پروین پوهیدله چې د پسرلي په درشل کې واوره ډیر نه ځنډیږي . په منډه وریږي اوپه منډه هم دریږي . په وریدو سره د هیر شوي ژمي خاطرې ژوندۍ کوي . چې دریږي د پسرلي هوا خپروي . په دې شیبه چې واوره وریدله پروین غوښتل چې ویې نمانځي ، تنفس یې کړي . د . کړکۍ تر شایې دا نه کېدل
پروین خپل دستکول واخیست . له دفتره ووته . پروین په زړه کې لږ نارامه وه. پوهیدله چې ځان تیر باسي . واوره هسې پلمه ده. دا د واورې او ژمې پای نه و چې پروین یې نارامه کړې وه .د نژدې دوست ، امېن سره خدای پامانی ځوروله . واوره به بیا وریدله ، ژمي به بیا راته . .خو امین د تل لپاره افریقي ته روان و
امېن د نسیمې نژدی ملګری و. دوی دوه کاله د سرې میاشتې په یوه دفتر کې کار کاوه. امېن . له افریقې څخه راغلی و چې په افغانستان کې کا ر وکړي
»»»
نسیمه نه پوهیده چېرته ځي خو دومره پوهیده چې پام بدلوي. ملګری یې جواد زړه ته ورګرځیده. حوا هم یوه نژدې ملګرې وه. څو میاشتې مخکې یې مېړه د موټر په ټکر کې وژل شوی و. د حوا له واده څخه څو میاشتې نه وې وتلې. دا لا مېندواره وه. دې پیښې د حوا ټول ملګري متاثره کړي وو. د حوا د لیدو خیال د نسیمې زړه وزبیښل . د حوا دلیدو اود هغې د غمجنو کېسو اوریدل چې څومره مېړه یې وریادیږيَ ، نسیمې ته یو ډول خپګان پیدا کړ. له هغې ورځې راهیسې چې د حوا مېړه وژل شوی و ، نسیمه هره ورځ د حوا دیدن ته تله او کېسو ته یې چې د مېړه تکراري خبرې وې اوریدې . خو کله چې د حوا زوی پیدا شو او دا ورسره بوخته شوه ، نسیمه ډیره نه ورتله. کله به یې احوال اخیسته . نن یې زړه کې ګرځیدله . خو

نسيمې ته واورې ډېر خوند ورکړی و ، نه يې غوښته چې د حوا غمجنې کېسې د واورې خوند ورنه واخلي .
چېرته لاړه شې؟ نسيمې د يوې بلې ملګرې په فکر کې شوه ـ نازو . نازو هم د نسيمې نژدې ملګرې وه. نازو د ملګرو په منځ کې د خنداني او مستې په نامه مشهوره وه. تل يې خندا په خوله کې وه. د ډيرو غمجنو پيښو کېسې يې هم په ټوکو او ټکالو کوله . دا هم د حوا د مېړه په مړينه خپه وه خو د موټر د ټکرکېسه يې په ټوکو کوله . حوا هم پوهيدله چې نازو د زړه څخه نه خاندي خو هسې غواړې غم د خندا تر شا هير کړي . د نازو ملګرو ته مالومه وه چې دې ته ژوند طنز مالومېږي . يو تريخ طنز چې په خندا ارزيده . دې په خپل ژوند پورې هم خندل .
نورو ته نازو د ژوند لوبه بايللی وه . پنځلس کاله يې د واده تير شوي و خو اولاد يې نه درلود . پروسږکال يې مېړه بله ښځه کړې وه . خپلو خپلوانو ته نازو کم بخته او بې تالو وه چې خدای د اولاد څخه بې برخې کړې وه. نه په تاويز شوه نه په نظرونو، نه په ملا او نه په زيارتونو. څه نه وو چې نازو د اولاد د موندلو لپاره ونه کړل خو سوال يې ونه منل شو. نازو دا تالې هم نه درلوده چې مېړه يې د دې په خوښه بله ښځه وکړي او دا د کور مشره شي . ډيرو ښځو اولاد نه درلود خو مېړونو چې يې له دويم واده وروسته بيا هم ورسره اوسيدل . ځيني خو لا ښه مېړونه وو چې د ښځې په سلا به يې ښځه کوله او د کور اختيار يې هم لومړنۍ ښځې ته ورکاوه .
نازو دومره سياه بخته وه چې مېړه يې بيخي وطن پرايښی و. پاکستان کې يې واده کړی و او نازو يې پرايښې وه . طلاقه کړې نه وه خو په کال کې هم يوواړ ورته نه راته .
نورو ته چې نازو هر څه وه دا خپله د خندا او ټوکو ډکه وه چا چې به د مېړه خبره ورته کوله دې به دومره ورپورې خندل او ملنډې به يې وهلې چې تا به ويل دې د ګډ ژوند لوبه ګټلې ده او بايلونکی يې مېړه دی . نازو پر مېړه خندل چې څنګه کم عقله و چې ۱۵کاله منتظر پاتې شوی و.
نازو د مېړه په پخواني کور کې يوازې ژوند کاوه .هيڅوک نه پوهيده چې د نازو ګذاره څنګه کېږي خو هيچا يې شکايت نه و اوريدلی . هيچا يې ژړا نه وه ليدلې او هيچا يې ښيرا نه وه اوريدلې . په همدې نازو د خپلوانو خوښه وه . ډېر وخت يې هم دخپلو خپلوانو او دوستانو سره تيريده.
نسيمه د نازو په فکر ځان سره وموسکېده او د کور خوا ته روانه شوه .
نسمېه چې د نازو د کور دروازه ټکوله په زړه کې يې د هغې ټوکې ګرځولې چې د دې په ليدو سره يې خامخا کولې . شيبې تيرې شوې. د چا د پښو غږ نه و. نسمېې بيا د دروازې زنځير په دروازه لږ په زوره وټکاوه . بيا چوپه چوپتيا وه . نسميې چې نه غوښتل دا ومني چې نازو نشته بيا بيا يې دروازه وټکوله . يقين يې شو چې نازو چېرته تللې ده. نښه به ورته پريږدي . نازو مکتب نه و ويلی خو لوستل يې په جومات کې زده کړي و . نسمېې خپل دستکول کې د يوې ټوټې کاغذ او قلم په لټه کې شوه. د سودا يو رسيد يې پيدا کړ. قلم نه و. د وروځو قلم يې واخيست. څوکه يې ماته شوه. نسيمې يوه لوټه د دروازې په زنځير کې نښه کېښوده چې ګوندې نازو پرې پوه شې .
»»
واوره لا وريدله .خو ورځ لا اوږده وه. مازديګر د نسيمې خوښ و. د يوې ورځې د تيريدو او د بلې د راتلو رنګ يې درلود. ماسپښينی مهال ورته لټ ايسيده.
اوس څه وکړي ؟
بازار. بازار د وخت د تيريدو لپاره ښه لاره ده.

نسيمې يو کمپس واخيست چې د لسو نورو کمپسونو سره يې چې تر اوسه يې نه دي اغوستی يو ځای کېږدي. يو د پودرو قوتی يې هم واخيسته چې په الماری کې ورک شي .
کابو مازديګر و.نسيمه د امېن د دفتر له لارې د کور خواته روانه شوه. د امېن د دفتر څخه چې تيريدله د دفتر خواته يې کتل . د امېن نښيي يې ځارلي . د دفتر ديوالونه او کړکی سپيره او هير شوي مالومېدل.
نسيمې له ځانه سره وموسل او ګامونه يې ګړندي کړل .

# واده

د محفوظ مور لګيا ده خبرې کوي خو زه يې نه اورم . غوږ ورته نه ږدم . خبرې يې تکراري دي . ما ښام چې کورته ځم د ورځې حال راته وايي . سهار بيا خپل خوبونه راته بيانوي . نور يې خبرې راته خوند نه راکوي . د محفوظ د مور ژوند هم تکراري او يو نواخته دی . سهار پاڅيږي ما ته چای دموي . کور پاکوي بيا دوډۍ پخوي . د شپې خوبونه ويني .
د محفوظ د مور عمر ما ته نه دی مالوم . د مخ ګونځې يې بيخې ډيرې دي ښايي تر ما مشره وي . خو دېته هم د خپل عمر پته نه لګيږي . په دې هم نه پوهيږي چې لومړی اولاد يې څو کاله مخکې پيدا شوی . دا وايي ورته د وخت او ساعت او کال چل نه ورځي . د ډيرو شيانو چل نه ورځي . د رنګونو فرق هم نشي کولای . د زرغون په ځای شين راوړي د سره په ځای ابي . يوازې په تور او سپين پوهيږي . د سهار ماسپښين مازديګر ماښام توپير هم د ملا له اذان سره کولای شي .
دا تر ما مشره ده خو زما کارونه کوي . يا ښايي غوسو او غريبيو خواره کړې وی او په اصل کې تر ما ځوانه وي . مېږه يې ايران ته تللی ، څو کاله کيږي چې احوال يې نه دی راغلی . دا يې چې کله يادوي زامن يې ورباندې په قاريږي چې ولې يې يادوي . اوس چې کله د ايران خبر په تلويزيون کې ويني سترګې تلويزيون ته نيسي ، خپل مېړه لټوي . مشر زوی يې د طالبانو سره په جګړې کې وژل شوی دی .
دا چې کله خپل زوی يادوي ورسره هغه بدې ورځې يادوي چې د شهيدی د معاش د اخيستلو لپاره ټاکلي دفتر ته تلله . اوس هغه معاش بند شوی دی .
د محفوظ مور باندی مې په اولو ورځو کې ډير زړه خوږيده . د کتابونو خبرې مې په زړه کې ګرځيدې چې خلک ناپوه ساتل کيږي او ورته د پوهې موقع نه ورکول کيږي نو ګناه د هغو ده چې دې خلکو ته يې د پوهې او روزنې لارې نه دې برابرې کړي . خو اوس مې د دې ناپوهي په غوسه کوي . خبرو ته يې غوږ نه ږدم . سترګو ته يې نه ګورم . دا هم چې راته ځيره شي ورباندې په قاريږم .
د سيورې په شان ده. راسره ده خو شتون نه لرځ . ګورم يې خو لمسوم يې نه . اورم يې خو غوږ ورته نه ږدم .
زه له ځان سره په دعوا يم . فکر مې يو څه وايي خپله بل څه کوم . زړه مې وايي د محفوظ مور بيچاره مظلومه ده . په هيڅ نه ده خبره . دا خو د دې ګناه نه ده چې د مربا او د غاښو د

کريم توپير نشي کولای . دومره چې دا ماته بې سره ښکاري دومره به زه دې ته بيکاره مالومېږم
. . ولې به ورته په غوسه کېږم
»»»»»»»»»
دتيلفون زنګ اورم . له ځانه سره وايم نه يې پورته کوم . ستړې يم بيا به وروسته ځواب ورکم .
: د محفوظ د مور د کلکو ګامونو غږ اورم تيلفون يې ماته راوړی
. دغه ده تيلفون دې -
: ورباندې چيغه کوم
په تا يې څه ؟ ولې دې راته راوړ ؟ -
خپل غږ راباندې بد لګيږي . لکه چې د بل چا وي او د ليرې نه يې واورم . د تيلفون زنګ هم راباندې بد لګيږي.
! بلې –
. سلامونه . بيا هم زه يم
شاعر ملګری مې دی چې پرون يې راته د نوي کار مبارکي راکړه او اوس يې بيا تيلفون کړی .
دوه کاله مخکې يې مېرمن مړه شوه او دی يې ډېر وځوراوه . ملګري يې وايې دی په خپلې
: مېرمنې مېن و . نه پوهيږم بيا يې ولې تيلفون کړی .غږ يې ورو اورم
يوه پوښتنه وکړم خوا دې نه بديږي؟
. ولی به مې خوا بده شي ؟ ووایاست
. خوپه زړه کې وايم خامخا کار يې چېرې بند دی ما واسطه کوي
زما سره ګډ ژوند کوې ؟
. چوپه پاتې کېږم
فکر کوم. واده ؟ اوس ؟
ټول هغه صفتونه مې چې پخپلو مقالو کې د ناوې ا و مېرمنتوب لپاره ليکلي و او ورباندې مې د
تپل شويو ذهني مېعارونو نوم اينبی وو په زړه کې مې راو ګرځيدل . ښځه چې واده کوځ بايد
....ځوانه وي ښايسته وځ د کور په کار بلده وځ او .....او ....او
.ـ زه به ورباندې فکر وکم
......... ـ زه له ډيره وخته راهيسې په تا مېن وم خو واده
. خبرې يې نه اورم تکراري دي . د کتابونو د مېنې کېسو ته ورته دي
: غوږی ږدم . د محفوظ مور پوښتنه کوي
څوک و؟
. زه ځواب نه ورکوم

# مالګه

نازو په کورنۍ کې تر ټولو کوچنۍ وه. لا پنځه کلنه نه وه خو کله کله مو د نجیب کا کا دکان ته په سودا پسې لیږله . د نجیب کا کا دکان د کوڅې په بر سر کې و. خو هغه ورځ چې نازو د خپلې ملګرې کور ته په لار د نجیب کا کا د دکان له مخې تیریده ، نجیب کاکا د دې په لیدو د دکان له منځه د خپل ځای نه پاڅید او دا یې له لستوني ونیوله ؟

- چیرې ځې جلۍ ؟ خیرت خو دی؟ راځه کلچې مې راوړي .

نازو څو شیبې بې ځایه هڅه وکړه چې لاس خلاص کړي ، خو پښې یې سستې شوې ، ورو یې وویل :

- لیلا کره ځم .

د نازو خبره لا نه وه ختمه شوې چې نجیب کاکا د مټو نه ټینګه ونیوله او د دکان منځ ته یې کش کړه .

- راځه راځه کلچې مې راوړي .

کا کا چې دا ویل غږ یې یو ډول ریږدیده ، رنګ یې سور شوی و.همداسې چې د نازو لاس یې ټینګ نیولی و په بل لاس یې یوه دانه کلکه کلچه له شیشه اي بوتل څخه وایستله او نازو ته یې ورکړه. نازو سر وښوراوه او لږ شاته شوه . خو مخ یې د دکان د پردې خوا ته اړولی و او د پردې یوې څنډې ته یې ځیر ځیر کتل .

د نجیب کاکا دکان چار کونجه و.په دوو خواوو کې د لرګو تاقچې وې چې پکې د میوو د شربتو کاغذي قوتي ، دکالو د پوډور قوتي ، برقي ګروپونه او نور ډول ډول نوي او زاړه کاغذي او وسپنیز قوتي او د کالو ژیړ صابون کتارایښی و . د دکان په یو کونج کې د بوجیو یوه پرده ځړول شوې وه. له پردې سره یوه پسخانه جوړه شوې وه چې کا کا د لمانځه لپاره او کله کله ماسپښین د یوې سترګې خوب لپاره هلته ته. د د کان مخې ته ټوکرۍ یوبل ته نژدې دوه کتاره اېښودل شوې وې . بوره ، تور او شین چای ، ګوړه ، ماش ، لوبیا ، دال ، او نور ضروري شیان په همدې ټوکریو کې وو. د ټوکریو تر شا د نجیب کا کا د کیناستو ځای و. یو زوړ ترازو او څو تیږې هم د ټوکریو په څنګ کې وې.

د نازو دا پرده ډیره بده ایسیده. د پردې نه بوی ته. یو ډول د دوړو او خیرو سریښناکه بوی .هر کله چې به نازو مور د سودا پسې د نجیب کا کا دکان ته لیږله د نازو سترګو ته همدا پرده دریدله . د نجیب کا کا ټول دکان سریښناکه و چې د نازو په لمن او لستونو پورې نښتی و. کله خو نازو دا چسپناکي ان په خپل فکر کې احساساوه او ترې نشوای جلا کیدی .

اوله ورځ چې نازو دا پرده لیده ټکنده غرمه وه. په کوڅه کې څوک نه ښکاریده. نازو مورمالګې پسې لیږلې وه . نجیب کاکا په دکان کې نه ښکاریده. نازو له ځانه سره بوګنیدله ، سندره یې بلله په زوره یې غږ وکړ: - اې نجیب کا کا !چیرې یې ؟ مالګه راکه !

نجیب کاکا سر د پردې تر شا ښکاره کړ . نازو لږه حیرانه شوه . هیڅکله یې نجیب کا کا لوڅ سر نه و لیدلی . ټل به یې یو لوی پټکې په سر و. دا وار یې سر لوڅ و. سترګې یې سرې وې . نازو یې چې ولیده را مخته شو. شا و خوا یې کوڅې ته وکتل . هیڅوک نه و. خوله یې د شوخو هلکانو په شان وازه شوه . نازو ته یې په سترګګو وویل :

- ښه مالګه غواړې ؟

هو. مور مې ویل ښه سپینه مالګه راکه.

.- راځه راځه چې ښه سپینه مالګه درکم
نجیب کا کا دا وویل او د بوجۍ یوه څنډه یې پورته کړه او نازو ته یې د سر په اشارې د راتګ بلنه ورکړه. نازو حیرانه شوه . نجیب کا کا هیڅکله سودا د پردې شا ته نه ساتله نن یې ولې
: مالګه هلته ساتلې ؟ نجیب کا کا بیا غږ وکړ
راځه . ښه مالګه غواړې که نه ؟ که توره مالګه درکم ؟ -
: نازو زړه نا زړه دکان ته وختله . له ځان سره یې وویل
. مور مې څه ونه وایې چې ولې دکان منځ ته وختم. نه خو ښه مالګه راکوي -
. د نجیب کا کا تر شا پسخانې ته لاړله
دپردې تر شا یو کونج جوړ شوی و. نه ګردی و او نه اوږد . درې کونجه ځای و. یوازې یو خیرن پټو د زړې سترنجۍ پر سر پروت وه. نجیب کا کا کښیناست او د نازو خوا ته یې لاس وغزاوه. نازو وکتل . هیڅ شی نه و. مالګه به چیرې وي . نجیب کا کا داسې ورته کتل لکه وږی او تندې وهلی سپی چې د غټا زور ونه لري ... په وازه خوله نفس نفس ووهې ؟ او درته ګوري
.
کومه ده مالګه ؟ -
. راځه کښینه . مالګه به درکم . نازو یې تر لاس ونیوه او کش یې کړه -
»»»»
.نجیب کا کا په زوره وخندل . ژیړ غاښونه یې نازو ته دلیوه غاښونو ته ورته ښکاریدل
کا کا خپل پټکی پر سر کړ او د پردې څنډه یې پورته کړه . نازو ته یې اشاره وکړه چې ووځی .
نازو زنګیدله . پښې یې سستې وې ، یوه خوا بله خوا لویده. اوښکې یې روانې وې ، شونډې
. یې رپیدې
- چې و نه ژاړې . که مور دې خبره شي وژني دې ، پوهیږې ؟ که خبره دې له خولې ووته خدای دې شرموي . شرم دی شرم . که بني بشر درباندې خبر شي ، بیا به ګورې چې څه تورتم درباندې لویږي؟
نازو غوښتل چې منډه کړي خو پښې یې درنې وې منډې یې نشوای وهلی . نجیب کا کا ځان په
. خپل ځای کې سمواوه
. فکر دې ونیسه د کلچو پر میدو دې پښه کیښوده ، ګناه لري
نازو ښکته وکتل پښه یې یوې خواته کړه اوله دکان څخه ښکته شوه. د نجیب کا کا غږ یې په
. غوږو کې په نیمو شپه کې د لریو لیوو چیغو ته ورته راته
! مالګه دې واخله وا نجلۍ
هغه ورځ پر نازو لکه کال تیره شوه . ماتې پیسې یې په ورغوو کې چسپناکه نښتې وې . ټول ځان یې چسپناکه و. ټوله دنیا خیرنه ا و چسپناکه ورته بریښیده. مور یې وربانډې په قار وه چې
.ځنډ یې کړی او مالګه یې نه ده راوړې
. هغه کرۍ ورځ نازو ژړل . له خدایه ډاریده
»»»»»»
له هغې ورځې وروسته نازو د نجیب کا کا نه ویریدله خو چا ته یې نشوای ویلی . څو وارې یې زړه کې وګرځید چې هوسی ته ووایې بیا به یې د کا کا خبره یادیدله چې خدای به یې وشرموي .
مور چې کله سودا پسې دکان ته لیږله نازو ورته په زړه کې ښیراوې کولې . مور نه یې بد راته. دهوسی نه یې هم بده راتله ، زمري سره خو هسې هم ورانه وه. ځان خو څه کوې . له
. هماغې ورځې راهیسې یې له خپل ځا نه کرکه کوله. خیرنه ، چسپناکه او بد بویه وه
»»»»

: نن هم نازو  ځان بدبویه ،چسپناکه او خیرن احساساوه  .  تر شونډو لاندې یې وویل
. خوشې مې که  لیلا کره  ځم -
.   په زړه کې یې دعاوې کولې چې یو څوک  په کوڅه کې ښکاره  شې  خو هیڅوک پیدا نه شو
. د نازو  شونډې رپیدې  شا شا ته یې کتل او د نجیب کا کا تر شا د پردې شا پسخانی ته ننوتله

# میلمه

امان خېل نژدې ملګري او همکاران ما ما کره کلي ته  بللي و. د ملګرو په ډله کې  زه  تر ټولو نا بلده او ښاري ښکاریدم.  په ټول مجلس کې یوازینۍ ښځه وم هغه هم وروسته له ډیرو کلونو له خارجه راغلې وم.  همکاران مې ښه خلک و. د ژوند ، ادبیاتو، او سیاست  په باره کې  مو یو نظر درلود او  همدې وجې مو‌ږ سره نژدې کړې وو.  خو د امان د ما ما زامنو او د کلي نورو میلمنو  ته  شاید زۀ ډیره بل رنګ وم ، ښایي د منلو وړ  هم نه وم .
په مېلمنو کې یوۀ پټ پټ خولې سرې پټ پټ ماته کتل . ور پام مې شو. زما چې ورباندې سترګې لګیدې سترګې به یې ښکته کړې .  دی په ټولو کې اصلي کلیوال ښکاریدۀ . څېره یې هم د ځیرۀ پښتانه وه. وتلي باړخوګانو ، ژورو شنو سترګو او تروۀ تندي یې د افغانستان د خلکو پوست کارتو نه را په یادول .
نسواري پټو یې تر ځان  چاپېر کړی و، د کړکۍ دروازی ته یې ډډه وهلې وه. نورو  هم پټو درلود خو د دۀ بل ډول ښکارېدۀ. غلی ناست و . څو وارې مې ورته وکتل . په هر وار یې ما ته کتل . له ځانه سره مې ویل :
ددۀ په نظر  ښځه کم عقله ده ، یوازې  به د کور  او ماشومانو د ساتنې لپاره مناسبه وي. دی به ښځو ته ارزښت نه ورکوي . ښځه یې خبره هم نه ده چې میړه یې  چیرې مېلمه دی . ښایي ډوډۍ ورته پخوي ، منتظره به ورته ناسته وي . دی چې کور ته ځي ښځه یې ترې په ډار ډار پوښتي چې ډوډۍ تیاره کړي که نه ، دی ورته تر ژبې لاندې وايي نه ! ښځه یې چای ورته تیاروي . خو دی ولاړیري خپل ځای کې پرېوځي . ښځې  ډوډۍ نه ده خوړلې ، وږې  ده . ډوډۍ  تودوي  .  دی موړ دی ، زړه یې غواړي مینه وکړي .   په ناحقه ټوخیږي . دا یې ښځې ته  نښه ده . ښځه یې راځي څنګ ته یې پرېوځي .   څو شیبې  وروسته  دی  ساه ساه کیږي ښځې ته شا اړوي . هغه ورو ترې لټیږي  .
سبا سهار سرې  د لمانځه په وخت پا څیږي    ، تشناب ته ځي . تودې اوبه نشته . ښځې ته قاریږي : اوبه چیرې دي او پدر نالتې ؟
. چورتونه بس کوم . بیا  مې سترګې  ورسره نښلي
: د ځان په هکله  د ده فکرونه راسره سپړم
»»»»»
توبه نعوذ با الله دا څومره بې حیا ښځه ده .   نه شرمیږي  . په نیغو سترګو  راته ګوري . ښځې چې خارج ته لاړې شي حیا او ایمان یې  ورک شي . د کومې کورنۍ ده ؟ ورور نه لري  مېړه نه لري . د یوې ډلې نارینه و په منځ کې  ناسته ده . هر وارې چې ورته ګورم د دې سترګې ما ته برګې وي .  زه خو  ورته ګورم چې وګورم ښځه چې خارج ته ځي څه خېل وي . دا نو ولې

ماته ګوري ؟  خامخا دا هم له خارجه د راغلو جینکو په شان بېباکه ده .  دین او ایمان يې بایللی .
کله دې نارېنه وو سره کله نورو سره  هسې ..... ده . شراب به څکي . له دې ټولو نارینو سره
به مجلسونه کوي . ناڅي به هم . پیسو لپاره به څه کارونه کوي . دا ډول ښځې میره  نه لري .
څوک يې نه ودوي . دې ته یوازې شتمن سړي ښه ښکاري . موږ کلیوال ورته انسانان نه ښکارو
. خدازده څه شي ته  دلته راغلې ده ؟
نن دلته سبا به چیرې وي ؟
***

ناوخته دی . ټول راولاړیږو . د امان د ما ما د زامنو او نورو  کوربنو کلیوالو سره خدای پامانی
کوو . غلی میلمه د دروازې په څنګ کې ولاړ دی ، راغلیو میلمنو سره په لاس مخه ښه کوي .
: زه ورنژدې کېږم . وایم د خدای پامان . دی  ښکته ګوري ، ورو تر شونډو لاندې وايي
خورې مخې ته دې  ښه

# نـکریزی

د مشر بابا  کلا دماشومانو ، ښځو او ځوانانو  د شور او زوږ سره خوځیږی . د کلا دروازی ته
نژدی خلیپه انور د وریجو تور غټ دیګونه بار کړی . خپله د دیګو څنګ ته پر یوه ډبره ناست
دی او  ماشومان د خپلو دیګونو  خوا ته نه پریږی . دماشومانو نه  د نویو کالو د پاک ساتلو
سودا او د میندو سپارشتونه هیر دی .  خاندی چغی  وهی ټوپونه اچوی . هسی د خپلو همزولو په
لیدو او نویوکالو  خوشاله دی خو نوم د ی د واده.   .
اوس اوس یواځی په یو نیم  ودونو کی  دی چی کورنی  په خوشالی سره ټولیږی او ورسره
ماشومانو ته  هم د لوبو او منډو او شه ډوډی موقع پیدا کیږی . ډیر لږ ودونه وی  چی د واده والا
کورنی د یوه خپلوان د مړینی په خاطر  واده هم د فاتحی په شان  په چوپه چوپتیا تیر نه  کړی .

نن شپه د مشر بابا د لمسی  زمرک واده دی د کوز کلی د ملک  صاحب د وریری سره . د
زمرک ملګری د سازیانو یوه ډله یی هم راوستلی ده چی ځوانانو ته  مستی مستی سندری غږوی
او یو نیم ورته اتڼ اچوی .

دننه په حرمسرای کی د زمرک د تره لوښی او ملګری یی هم دریی وهی او سندری وایی . هره یوه د ناوی ښکلا او ، په نکریزو رنګ سره لاسونه او د واده سره کالی او سور شال په ټپو ستایی .

مشر بابا د لمسی په واده خوشاله دی خو سندری او مستی خوند نه ورکوی . وارخطا دی چی ا مجلس زر ختم شی او میلمانه ټول کورو ته ولاړ شی . کله په اشپز کله په سازیان او کله په هلکان په ناحقه په غوصه کیږی . خو د میلمانو سات تیر دی او مشر با با ته چندانی پآم نه کوی .

د ډوډی وخت دی . هلکان دسترخوانونه اواروی او میلمانه په ګوتو شمیری چی د دریو په سر ورته غوری راوړی . میلمانه سره څنګ ټه خوځیږی او ډوډی ته تیاری نیسی .

د مشر بابا تر پښو لاندی ځمکه خوځیږی . د ( زلزلی ) کلمه یی لا له خولی نه ده وتلی چی ټوله کلا د یوی چاودنی په غړمبار ښوری .ماشومان چغی کوی ، د خپلو میندو خواته منډه کوی . ښځی په لوړ اواز ژاړی او پښی لوځی او سر لوځی د کوټی ووځی . نارینه ځوګ کلمه وایی ځوک اولادونه پسی منډه کوی. ځوک تښتی .
کلا د ژړاوو او چغو سره نړیږی .
مشر بابا اریان پر ځای ولاړ دی او هسی بی مانا په هوا کی لاسونه خوځوی .
د یوی بلی چاودنی غړمبار کیږی . کلا دشپی غیږی ته ځان اچوی . چوپه چوپتیا کیږی .

««««««««««««««««««««

سبا ته یی راډیو ګانی د مشر بابا په کلا کی د امریکانو د هوایی بمباری له امله د مړو شمیر ۲۰ وایی خو مشر بابا پوهیږی چی ۳۹ کسه خو دده د کورنی مړه دی .
په روغتون کی کاناډایی نرسه د ناوی د تخت څنګ ته ولا ړه ده او افغانی ډاکتری ته وایی :
ځومره جالبه ده . زموږ ناوی سپین کالی اغوندی خو تاسی سره کالی اغوندی . لاسونه هم سره کوی .

ډاکتری د مشر بابا ناوی ته ګوری . وایی :

له دی وروسته به تور واغوندی .